مجید قرار ۲۰۱۵/۰۵/۲۱

د معلوماتو له تبادلې څوک وېرېږي؟

کله چې ته یو چا ته د هغه د رقیب جاسوسي کوې، او بله ورځ هغه کس خپل رقیب ته ستا په اړه معلومات ورکړي چې دا زما جاسوس و، واضحه خبره ده چې ستا دماغونو ته به مرچ لوګی کېږي او ستا له سترګو به اوښکې راځي .

له آی ایس آی سره تفاهملیک، چې نه کوم اجرائیوي او الزامي حیثیت لري، نه د افغانستان لخوا خپل دښمن ته کوم ډول امتیاز ورکول کېږي او نه تر اوسه نهایي شوی او د دواړو هېوادونو لوړپوړو لوریو لاسلیک کړی دی، که یې پاکستان انسان کړي او که یې نه کړي، خو دوه ډوله خلک یې سخت وارخطا کړي دي. یو هغه خلک چې د یوه ملت پر ځېر پر ځان او ملت دا باور هم نه لري چې له خپل حریف سره دې د مذاکراتو پر مېز، په ګډه روزنه یا ګډو عملیاتو کې برخه واخلي او خرڅ دې نشي .

کله چې ته خپل پنځه په خبره پوه، انتخابي هلکان پاکستان ته استوې، د هغوی نظامي روزنځایونو ته ننوځي، ته دا تمه نه لرې چې ستا هلکان به د هغوی رازونه راوړي، د هغوی نصاب به را ولېږدوي، د هغوی جاسوسي به موږ ته وکړي، خو کله چې د هغوی افراد د ګډ روزنیز مانور لپاره چې د نړۍ د ټولو هېوادونو ترمنځ معمول دی، راځي، نو دا وېره لرې چې زموږ معلومات به یوسي. یا بالعکس، پر ځان دا باور نه لرې چې د هغوی کسان به استخدام کړي او له هغوی دا وېره لرې چې ستا انتخابي شپږ کسه ځوانان به وپېري. دا پر یوه ملت د بې باورۍ ښودلو اوج دی .

هغه ورځ مې پر انټرنیټ د نیویارک ټایمز د پاکستاني تبعه ژورنالسټ چې اوس له مجیب مشعل نومي افغان سره په بهرنیو رسنیو کې د افغان نظام په تخریب او بدنامۍ بوخت دی، بایوګرافي پر انټرنیټ پلټله. پر ټول انټرنیټ مې چېرته دا ونه موندل چې هغه دې ځان ته پاکستانی لیکلی وي. پاکستانی، بنګالی، هندی او نیپالی چې تر امریکا او اروپا ورسېږي، بیا ځان خپل هېواد ته منسوب نه ګني. آی ایم کانادین، آی ایم امیرکن، آی ایم بریټیش. خو د هیڅ افغان په اړه تر اوسه چا نه ده اورېدلې چې چېرته دې ولاړ شي او ځان دې افغان ونه بولي. له زلمي خلیلزاد، تر سلمان خانه، تر شاه رخ خانه پورې. د افغانستان یهود ځان ته افغانان، د افغانستان سکهان ځان ته ویاړمن افغانان وایي.

کله چې د یوه ملت خپل هویت دومره غښتلی وي، هغه پر ځان ولې دومره بې باوره شي چې له یوه حریف سره د مباحثې پر مېز، د مفاهمې پر سند بحث ونکړای شي؟ آیا دا خلک ملت ته روحیه ورکوي که ملت پر بې شخصیتۍ او بې هویتۍ تورنوي؟
آیا د کرزي صاحب، سپنتا، خرم او صالح ډلې به افغانانو ته تر قیامته په بازارونو کې د پلورل کېدونکیو غلامانو په سترګه ګوري؟

لازمه خو دا ده چې دا خلک له افغان ملت څخه د دې ستر اهانت ښښنه وغواړي. موږ ولې د یوه ملت په حیث له چا سره د یوه دوطرفه هوکړه لیک، سند، او بحث ورتیا ونه لرو؟ موږ چېرته بحث کړی دی چې نه مو دی ګټلی؟ چېرته مو برخه اخیستې ده چې تر خپل حریف ډېر نه یو ځلېدلي؟

چې خبره را ونغاړو، یوه ډله خلک چې له مذاکراتو، تفاهم او دېلوماسۍ وېرېږي هم ځان او هم خپل ویاړلی او تاریخي ملت حقیر ورته ښکارېږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بله ډله خلک چې د معلوماتو له تبادلې، مفاهمې او سپینو چنو وېرېږي، تر لومړۍ ډلې ډېر خطرناک دي.

د دوی اصلي وېره دا ده چې د معلوماتو تبادله، یعنې د دوی سپېره رسوايي.

آی ایس آی چې موږ ته معلومات را کوي، هغه به دا وي چې پلانی موږ تر پلاني ځایه بدرګه کړ، افغانستان ته مو در ولېږداوه.

پلانی ستاسې د پارلمان غړی موږ په دومره روپیو ګومارلی و، موږ ته دا ډول معلومات را کوي. د پلاني صاحب په کور کې موږ انتحاریان ساتل، خیال ورسره کوئ. پلاني صاحب له موږ سره د ډیورنډ کرښه لاسلیک کړې ده، او پلانی صاحب زموږ سفارت ته منظم تګ را تګ کوي.

اوس تاسې وواياست چې له دې پروسې څخه به آی ایس آی جاسوس ډېر وېرېږي، که د آی ای آی مخالف؟

مجید قرار خو چې نه وېرېږي، په ځان کې څه نه ويني. وېره خو د هغه چا ده چې جګړه، د آی ایس آی چینلي پیسې او د پاکستان د اجنډا عملي کول يې په معیشت او سیاست بدل شوي.

پرون پې پاکستان کې د افغان سفارت یوه لوړ رتبه مامور را ته وویل: "اسلام اباد سفارت کې د دندې پر مهال د دیپلوماتیکو هڅو په لړ کې یو ورځ د پاکستان یوه بدنامه پخوانی جنرال سره کیناستو دا هاغه وخت دې چې د امنیتی تړون پر سر ناندرې ښې په درز کې رواني دي جنرال ډېر په اخلاص او له زړه له کومې د تړون مخالفت وکړ د امریکایانو پر وړاندې یې د ولسمشر کرزي له دریځه ډېر کلک ملاتړ وکړ او تاکید یې وکړ چې ولسمشر کرزي ته مې پیغام ورسوئ چې همدې دریځ ته ادامه ورکړي او پام چې تړون امضاء نکړئ د ناستې نه وروسته ما د هاغه وخت سفیر ته وویل چې "اوس خو یې نو باید چې هرومرو امضاء کړو ځکه دوئ کله زمونږ خیر غواړي خو د تړون په هکله د پاکستان د پوځي رهبرئ او د ولسمشر کرزي همغږی دریځ د تشویش وړدې" دا واضحه ده چې جګړه د مافیايي کورنیو لپاره مردارو شیدو غوا ده، وه، او وي به .دوی په افغانستان کې د پاکستان د جاسوسیو دوام غواړي، نه د دپلوماسیو، ځکه دپلوماسي هغه ده چې د تفاهملیک پر اساس وي او جاسوسي هغه ده چې خرمخېلو، سپنتاخېلو، لنډه غر خېلو، کرزي خېلو، یاسیني خېلو، اکبرزاده خېلو او نورو له ارګ، پارلمان او ملي بنسټونو څخه پاکستانیانو ته کوله.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ